مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی
۲۰۲۳/۱۱/۳۰

# د امیر په دربار کي

## At the Court of the Amir
## By Alfred Gray.

ډاکټر الفرډ ګرې یو انګلیسی ډاکتر وو چي امیر عبدالرحمن د یوه بل انګلیس انجنیير سالټرپاین په مشوره له انګلستان څخه را وغوښت او د امیر د پاچهی وروستي کلونه یې، د افغانانو د یوه بهرني ډاکټر په حیث، په کابل کي تېر کړل. الفرډ ګرې، د امیر په دربار کي، د نورو دغه ډول انګلیسیانو په څېر، خپل خاطرات د یوه کتاب په شکل ترتیب کړي او چاپ کړي دي. دا کتاب ډېر لوی او هر څه یې په تفصیل بیان کړي دي؛ چي یو له ډېرو په زړه پوري او ګټورو خاطراتو څخه شمېرل کیږي. ما د دې لوی کتاب یوازي ۳۲ او وروستی فصل، چي د امیر عبدالرحمن خان له شخصیت او د هغه له اداري اجرآتو سره اړه لري، ترجمه کړی دی.

### دو دېرشم فصل: وروستي خبري

که څه هم ما کوښښ کړی دی چي په افغانستان کي د خپلي استوګني په موده کي د هغه هیواد د خلکو او د امیر د شخصیت په باب خپلي تجربې بیان کړم خو دا باید له یاده ونه باسو چي موږ انګلیسیانو، چي د امیر په خدمت کي وو، د امیر په باره کي مو، د هغه هیواد له نورو خلکو سره څرګند توپیر درلود. موږ، د خارجیانو په حیث، د هغه هیواد پیښنو کله کله حیرانولو، کله کله به یې دردولو او کله به مو په ډېره علاقه ننداره کوله که څه هم چي موږ دې پیښنو ته په مجرد شکل کتل چي زموږ سره یې چنداني شخصي اړه نه درلوده.

مثلاً ما په خپلو خاطراتو کي دا خبره یاده کړې ده چي امیر به کله کله ځیني کسان تر ټولو له کښتي طبقې حتی غلامانو څخه انتخاب کړل او هغه به یې د ټولني تر ټولو عالی مقاماتو ته ورسول. دغه راز به یې د عالی مقاماتو څښتنان داسي را وغورځول چي تر هر چا به یې ټیټ کړل. نن به دې یو سړی لیدی چي د ښار په لارو کوڅو کي یې په سروزرو ښکلي سوي بخملي جامې اغوستي دي او د غلامانو یو پوځ به ورسره ملګری وو، یوه یا دوې ورځي وروسته به دې هغه سړی ولیدی چي زړې جامې به یې په تن وې او د یوې ګولې ډوډۍ لپاره به یې ګدایی کوله او زه به حیران وم چي دا پیښني د یوه سړي د اعمالو نتیجه ده  او که دا پیښني پر یوه افغان باندي، چي په یوه لوړ مقام کي مقرر سي او ستر مسوولیتونه ور ورسپارل سي، د بشپړي بې باوری له امله منځته راځي.

د مثال په ډول: یو سړی د یوه ولایت د ګورنر په حیث ټاکل کیږي چي عادي تنخوا لري او امیر یې ویني چي ډېر عالي لباس یې اغوستی او، پر آسونو باندي، د سپرو نوکرانو یوه لویه ډله ورپسې ده. حتی موږ خارجیان په دې پوهېدلو چي د یوه ګورنر په تنخوا دا دونه عالي جامې او نوکران او دربار نه سي برابربدلای. دا خو غیر ممکنه وه چي دا شیان دي د امیر له سترګو څخه پټ سي؛ خو دا کار یو ډول عادي سوی وو او هر څوک چي به په یوه لوی مقام کي مقرر سو هغه به ځانته دربار جوړ کړی وو. څو کاله وروسته به هغه ګورنر، د ولایت د عایداتو او مالیاتو په باب د حساب لپاره  کابل ته را وغوښتل سو. هغه دا حساب ورکولای نه سو. امیر به د هغه پیسې او مالونه، چي په ناروا توګه به یې ترلاسه کړي وه، ورڅخه واخیستل او خزانې ته به یې تحویل کړه. د ده قیمتي شیان، شالونه او د مېرمنو د الماسو زیورات به یې ورڅخه واخیستل. دی به یې دوونه جریمه کړ چي ګدایی ته به محتاج سو او یا به یې بندیخانې ته واچاوه. د دې عمل تاوان به غریبانو، بزګرو او تاجرانو ته رسېدی چي ګورنر به د خپل واک په وخت کي پیسې ور څخه اخیستي او چاړه به یې هډوکو ته رسېدلې وه. کله چي اشراف او د اعتبار څښتنان دغه راز کارونه وکړي نو بیا امیر مجبور دی چي په غلامانو اعتماد وکړي او د ټولني عالي مدارجو ته یې ورسوي.

له بلي خوا داسي هم ډېره پېښنه سوې ده چي یوه سړي د خیانتونو او په ناروا توګه د مالونو د جمع کولو له امله نه بلکه د دښمنانانو د دسیسو په وجه مقام له لاسه ورکړی وی. زه فکرکوم چي دا په یوه استبدادي نظام کي، چي ټول


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاریٔ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

قدرت د یوه سړي په لاس کي متمرکز وي، هر وخت پېښیږي. یو مستبد چي هر څونه هوښیار او عادل وي هغه په هر څه پوهېدلای نه سي. کله چي ټول قدرت د یوه سړي په لاس کی وي نو یو ځیرک او چالاک سړی، چي هر وخت دربار ته لاره لري، په دې پوهیږي چي هلته ټول کارونه د یوه سړي په اختیار کي دي او هر څه د هغه سړي په نیت او تندي پوری اړه لري نو هغه خپله په پوره حوصله خپل کار پیل کوي څو د هغه سړي ځای ونیسي چي تر ده لایق دی او تر ده لوړ مقام یې نیولی دی. کله کله یو سړی له دښمنانو سره ګیر سي. دواړه خواوي د یوه بل په باب په یو څه پوهیږي او کولای سي چي د ضرورت په وخت کي یې په خیانت تورن کړي خو د یوه بل له ویري هیڅ نه وایی. دا کار نو یوازي د افغانستان د اوسني امیر په دربار او اداره کي نه دی روان بلکه هر ځای له پېړیو همدغه حال دی.

ما ته د یوه عادي ننداره کوونکي په حیث دا پېښي دلچسپه وې مګر لکه مخکي چي مي ویلي دي زړه دردوونکي هم وې. کله کله دا پېښي د خندا وړ وي خو خاتمه یې، زیاتره وختونه، تراژیکه او د خواشینی وړ وي. سړی نه پوهیږي چي دا چټک او یو دم پورته کېدل او بیرته را لوېدل د افغانانو د عمل نتیجه وبولي او که د افغانانو اخلاقي او روحي حالت داسي راغلی دی چي باید همداسي ورته پېښه سي. که موږ د یوه متمدن افغانستان د جوړېدلو په باره کی فکر کوو او یا یې انتظار لرو نو دا پوښتنه مهمه ده.

آیا یو افغان چي قدرت ته رسېدلی او پر یوه لوړه چوکۍ باندي کار کوي په دې پوهیږي چي یوه ورځ به لاندي را غورځول کیږي او په داسي حال کي چي خپله چاړه په اوبو کيویني دا یې له ځان سره ویلي وي چي دا ګړی خو قدرت لرم دا چي ژر یا وروسته به د امیر له نظره لوېړم هغه خدای ته معلومه ده. نو چي قدرت لرم باید چي له دغه حالت څخه استفاده وکړم. چي څه مي په وس کیږي له خلکو څخه یې په زور او جبر ترلاسه کړم او له ژونده مزه واخلم. کېدلای سي چي د بیرته را غورځېدلو ورځ مي تر ډېره وځنډیږي.

که سړی له دغي زاویې څخه ورته وګوري بیا نو امکان لري چي دا اوسني حالات او پېښي د هغه د دغه سلوک له امله منځته راغلي وي. له بلي خوا دا سوال پیدا کیږي چي آیا د افغانانو روحي او اخلاقي حالت بیخي د اصلاح وړ نه دی؟ زما مطلب دا نه دی چي هغه دروغ وایی، غلا کوي، قتل کوي یا تېر ایستل کوی. ځکه دا خو هغه کارونه دي چي یو افغان یې له پېړیو راهیسي کوي؛ مګر سوال دا دی چي آیا دا ملت د اصلاح وړ نه دی او نه سي کېدلای چي د عالي اخلاقو او روحیاتو څښتن سي؟

سړی ویني چي هغوی څومره په زړه پاک دي او څومره مېلمه پال دي. له خپلي آزادی او له خپلي خاوري سره څونه ژوره مینه لري. کله چي یې یو دوست په تکلیف او یا غریبي او خواري کي وي دوی څومره ورته وفادار وي. دا هغه صفتونه دي چي ما او بل هر چا په دوی کي لیدلي دي. که سړی د افغانانو دې صفتونو ته وګوري نو ویلای سي چي دې ملت یو وخت تر دغه اوسني حالت ډېر عالي اخلاق او روحیات درلودلي دي.

دا چي امیر د هغوی په باره کي څه فکر کوي ډېره څرګنده خبره ده. ځکه چي ده هغوی را پورته کړي او د هغوی د روزلو په برخه کي یې خواری ګاللي دي. که څوک وایی چي امیر پخپله دغه اوسني ځای ته په تصادفي توګه رسېدلی دی دا به ډېره بېځایه خبره وي. هغه دې ځای او مقام ته د رسېدلو لپاره دومره زیار ګاللی دی چي یوازي د ده په وس پوره وه. دا لازمه وه چي باید د خانانو او لویو قومي مشرانو، چي تل به له یوه بل سره، د زړو دښمنیو او شخصي ګټو پر سر، په جګړه لګیا ول، قدرت ختم سي. هیواد باید فقط د یوه مشر تر رهبری لاندي سره متحد سي او ټول باید د پاچا د قدرت درناوی وکړي او په دې وسیله داسي وضع حاکمه سي چي ده ته دا امکان برابر سي چي خپل خلک له هغي ناپوهی څخه را وباسي چي دوی رنځ ورڅخه ګالي. امیر عبدالرحمن خان په دې هیواد کي، چي ده یې د قدرت واګي په لاس کي اخیستي دي، او تقریباً مطلق کنټرول یې په لاس کي دی، داسي کارونه کړي او کوي یې چي هیواد یې د ریښتوني تمدن پر لور رهي کړی دی.

البته سړی اوس هم پر دې حقیقت سترګي نه سی پټولای چي په افغانستان کي د یوه مستبد حکومت ټولي بدۍ موجودي دي. هیڅوک په هیڅ رسمي چوکۍ او مقام باور نه لري. نن سته سبا نسته. د مقام د نیولو لپاره هغه شرارت او شیطانت، چی مخکی مي اشاره ورته وکړه، موجود دی. پر غریبانو او نېسمتنو باندي ظلم روان دی او دهقان او کسبه تر استبداد لاندي ژوند کوي او دل کیږي. دا ټول شیان موجود دي او دا د یوه حکومت ژوند ته خاتمه ورکوي ځکه هر وخت چي متقابل اعتماد او باور موجود نه وي هلته هیڅ قدرت بقا نه لري.

سره له هغه چي امیر عبدالرحمن خان، د ناپولیون په څېر، د استخباراتو یوه پېچلې شبکه غوړولې ده مګر د هغه لپاره دا ممکنه نه ده چي په هیواد په ټولو موجودو نیمګړتیاوو او شرارتونو ځان خبر کړي. په مخکنیو وختونو کي د هیواد پرمنځنی طبقه او کښته طبقه چي، د هر هیواد د ملا تیر دی، تر اوسني وخت ډېر ظلمونه کېدل. مګر هر افغان ځکه خوشحاله وو چي یوه ورځ نه یوه ورځ دا فرصت ورته برابرېدی چي په قبیلوي جنګ کي برخه واخلي او خپل زړه سوړ کړي. هر افغان یو عسکر دی او د خپلي مدعا د ترسره کولو لپاره یې هر وخت ملا تړلې وه او


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

همدغه قبيلوي جنګونو يې د خپل ژوند له هغو شرايطو څخه چي هر آن د زړه سوي وو توجه اړولې وه. اوس دوی د فکر کولو فرصت لري. که څه هم چي د ژوند شرايط يې ډېر بهتر سوي دي مګر دوی وايی پخوانی حالت يې تر اوسني حالت ډېر بهتر وو.

د هغو کسانو لپاره چي د خپلو عقايدو د اظهارولو په منظور يې د ارقامو او احصاييو د ترلاسه کولو فرصت تر لاسه کړی دی په دې خبره کی هيڅ شک نسته چي افغانستان په دې وروستيو لسو کلونو کي د تمدن پر لور ډېر لوی ګامونه پورته کړي دي. او دا لوی ګامونه د هغه مهم او برجسته واکمن د زيار او زحمت برکت دی چي همدا اوس يې د افغانستان قدرت په لاس کي دی. هغه امير عبدالرحمن دی او لياقت او خدمتونه يې دلايلو او اثبات ته چنداني ضرورت نه لري.

که موږ د افغانستان اوسنی حالت د څو کلونو مخکي سره مقايسه کړو نو پوهيږو چي دې سړي چي مطلق قدرت يې په لاس کي دی د خپل هيواد د متمدن کولو پر لور څه ګامونه پورته کړي دي. امير عبدالرحمن د هيواد يو مطلق ديکتاتور دی. دی يوازينی سړی دی چي ارادې يې د دغه هيواد پر خلکو باندي خپله همېشنۍ اغېزه پرې ايښې ده. په افغانستان کي، د خلکو د عمومي اذهانو د رهبري کولو لپاره مطبوعات وجود نه لري. په افغانستان کي د ملايانو او مذهبي مشرانو قدرت او نفوذ ډېر سخت محدود سوی دی. د ملايانو او مذهبی مشرانو  رييس خان ملاخان، که څه هم چي امير يې ډېر زيات درناوی کوي، خو تر يوه عادي قاضي يې قدرت زيات نه دی. کله چي امير په دربار کي خپله عقيده اظهاروي نو د هغه خبري د ټولو عقايدو او احکامو اساس دی. څه چي دی وايی نو سرداران، درباريان او غلامان هغه خبره کوي او سمدستي خبره بازارونو ته رسيږي او ټول عوام په يوه خوله د امير خبره او عقيده تکراروي. د هغه سړي کور خراب دی چي د امير له عقيدې سره مخالفه عقيده ښکاره کړي او د امير خبره ورماته کړي. خلک ده ته په تريو تندي او بې باوری ګوري او د هغه له شاوخوا څخه اطلاعات ترلاسه کوي. ټوله توجه د امير خواته وي او که څوک د امير له عقيدې سره مخالفت وکړي يا د هغه سره په هغه نغمه کی چي ده سره کړې او پيل کړې ده برخه وانه خلي نو له کتاره ايستل کيږي.

لکه مخکي چي می ويلي دي، امير د دراني قبيلې مشر دی. دا قبيله له ډېرو پخوا زمانو څخه د هيواد تر نورو قبايلو متمدنه ده او واکمنان هم له دغي قبيلې څخه راغلي دي. کله چي سړی د امير عالي شخصي نفوذ ته ګوري نو ګوري چي دا د هغه هيواد لپاره د خوښۍ ځای دی چي هغه د تمدن او عدالت پر لور ګامونه اخلي.

دا هغه څه دي چي سړی يې په سترګو ويني. که د امير د نيکه امير دوست محمدخان په وخت کي شرايطو ته وګورو چي د افغانستان خلک يې امير کبير بولي. دوست محمدخان د کابل امير وو. د هغه ورور رحمدل خان په کندهار کي ناست وو. هرات د شاه شجاع د ورور شار محمد په لاس کي وو. دا خبري د ۱۸۳۵ کال دي ( کندهار په هغه وخت کي د کهندل خان په لاس کي وو او په هرات کي د شاه محمود سدوزي زوی کامران واکمن وو.جهاني) دا مشران هر وخت له ايران او روسيې سره په دسيسو لګيا ول او د دوی ترمنځ شخصي عداوتونو او د خپلو ګټو لپاره دسيسو او جګړو هيواد داسي حالت ته رسولی وو چي هيچا قدرت نه درلود او سړی يې انارشي بللای سي. جنګونه او له جنګونو سره غلاوي، داړه ماري او قتلونه دونه ډېر وه چي افغانستان د خپلو خلکو د اوسېدلو لپاره چندانی محفوظ نه وو او خارجيانو خو په هيڅ توګه نه سوای کولای چي له يوه ښار څخه بل ته سفر وکړي. جنګونه دومره ناڅاپه پيل کېدل چي سړي به له يوه ځايه بل ځای ته سفر کاوه د جنګ په منځ کي به ګير سو. تجارتي کاروانونه، چي د سفر جرأت به يې کړی وو، مجبورل ول چي له داړه مارانو او جنګونو څخه د ژغورلو لپاره ډېري اوږدې فاصلې طی کړي او سالم تر هدف پوري ورسيږي. د افغانانو ځيني وحشي قبايل تر هر څه د جنګ پيل کېدلو ته خوشحاله وه ځکه چي د جنګونو په وخت کي هيچا له چا څخه د لاري د نيولو او قتلونو باز خواست نه کاوه او هر چا هر څه کولای سوای.

اميردوست محمدخان د ۱۸۵۰ کال په شاوخوا کي ترکستان ونيوی او په ۱۸۵۴ کال کي يې رحمدل خان له کندهاره وايست. ضمناً په هرات کي شاه کامران د خپل پلار پر ځای کښېناست او د ده تر مرګ وروسته يې وزير يارمحمدخان قدرت ته ورسېدی. ايرانيانو پر افغانستان باندي حمله وکړه او هرات يې ونيوی. څرنګه چي هرات د هند د دروازې حيثيت درلود نو برتانيه مداخلې ته مجبوره سوه او د دوست محمدخان ورور سلطان جان قدرت ته ورسېدی ( سلطان جان د اميردوست محمدخان وراره او زوم او د سردار محمدعظيم خان زوی وو. جهاني) سلطان جان په ۱۸۶۲ کال کي وفات سو او څو تنو چي په هرات کی يې د قدرت نيولو ادعا درلوده، د ايران پر دوستي باندي تکيه وکړه او له هغه هيواد څخه يې د مداخلې غوښتنه کوله. دوست محمدخان ځکه د هرات پر لور حرکت وکړ. هغه ښار يې محاصره او فتح کړ. دا د هغه وروستنی اقدام وو او څو ورځي وروسته په خپل پوځي کمپ کی وفات سو. ( سلطان جان په ۱۸۶۲ کال کي نه بلکه په ۱۸۶۳ کال کي، پر هرات باندي د امير دوست محمدخان د حملې او د هغه ښار د اوږدې محاصرې په جريان کي، چي تقريباً ۹ مياشتي يې دوام وکړ، وفات سو. امير دوست


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

محمدخان د هرات محاصرې ته دوام ورکړ او وروسته يې دا ښار د سلطان جان د زوی شهنواز خان څخه، چې ځان يې امير ته تسليم کړ، واخيست. امير د ښار له فتح کولو څخه ديارلس ورځې وروسته په هرات کې وفات سو او د خواجه عبدالله انصاري په مزار کې خاورو ته وسپارل سو. جهاني)
کله چې امير دوست محمدخان په کابل کې پاچا وو نو هر چا اجازه درلوده چې يوه انګليس ته په وازه خوله ښکنځل وکړي او لعنت ورباندې ووايي. هغه د دې ترځنګ چې يو بريالی جنګيالی وو د ښه زړه خاوند او يو محبوب پاچا وو. مګر له دې ټولو صفتونو سره سره يې د خپلو خلکو د نېکمرغه کولو او سمسورولو لپاره کوم خاص کار نه دی کړی. ډاکټر بيليو، چې يو ماهر او د حقايقو نه سترګی کېدونکی څارونکی وو او وايي چې په کابل کې د امير دوست محمدخان په باره کې هر ځای خبرې کيږي خو هغه د خپلو خلکو د ژوند د ښېګڼې او بهترولو لپاره په ژوند کی يو ګام هم پورته نه کړ. هغه خپل قوم د منځنيو پېړيو په جهالت کی محصور وساتی او د ده په زمانه کې پر هر څه باندې مذهبی تعصب حاکم وو. خو ده به هر وخت ويل چې د هيواد د خپلواکی د ساتلو لپاره دا تر ټولو غوره لاره ده. د ده تر ټولو د ستاينې وړ کار دا وو چې خپله ښېګڼه يې د برتانيې سره په اتحاد کې ليده او د خپل ښه قضاوت په برکت يې بالاخره هيواد سره يو موټی کړ. مګر هغه سره له دې هم له تمدن څخه ليرې پاته وو. د امير دوست محمدخان او امير عبدالرحمن خان تر منځ مشابهت ته ځينو کسانو توجه کړې او قضاوت يې ورباندې کړی دی.
لارډ کرزن د هنر او آرټ په يوه غونډه کې وويل چې امير عبدالرحمن د خپل نيکه څخه ځيني شيان په ميراث وړي دي. په دې کې هيڅ شک نسته چې دا خبره پر ځای ده او سړی بايد دا پر زياته کړي چې امير عبدالرحمن، د دې ترڅنګ چې د امير دوست محمدپه څېر قوي شخصيت لری، ډېر زيات علمي، هنري او عمومي اطلاعات او معلومات هم لري. هغه دا معلومات له کتابونو، له خلکو سره د خبرو او د خپلو سفرونو په ترڅ کې له مشاهداتو څخه ترلاسه کړي او ذخيره کړي دي. امير عبدالرحمن د دوست محمد له ساده عاداتو او مېلمه پالني سره وقار او يو ډول له مهربانيه ډک احترام او درناوی ور زيات کړی دی چې د داسي يوه سړي په شخصيت کې برجستګي لري او له ورايه ښکاري چې له سهاره تر ماښامه غوړه مالان ورباندې را ګرځېدلي او صفتونه يې کوي. خلک په هر وخت کې عبدالرحمن ته لاس رسی لري. حتی په هغه وخت کې چې د نقرس او هډوکو له دردونو څخه به تاوېدی په ډېره حوصله به يې د خپل رعيت تر ټولو د غريب سړي عرض اورېدی او ډېر ژر به يې د عريضې جواب ورکاوه او خپل قضاوت به يې ورباندې کاوه.
زما له ليکني څخه به دا څرګنده سوې وي چې امير د خپلو خلکو د متمدن کولو او نېکمرغه کولو په لاره کې کوم ګامونه اخيستي او څه يې کړي دي. نور په افغانستان کې د لويو لارو نيول او په لويو لارو کې قتلونه عام نه دي او نه په ښارونو کې غلاوي او قتلونه کيږي. شپږ اووه کلونه کيږي چې انګليسيان له پېښور څخه تر کابل پورې سفرونه کوي او هغوی ته چا هيڅ ډول تاوان نه دی رسولی او نه يې د هغوی د آزارولو کوښښ کړی دی. زه د خپل ځان په باره کې درته ويلای سم چې هر وخت مې د کيلوالو ناروغان کتلي او په بېغمه زړه له کليوالو سره د هغوی کورونو ته بې وسلې او بې محافظينو تللی يم او په زړه کی مې هيڅ ډار او وېره نه ده را ګرځېدلې.
دا چې امير بايد د يوه ناروغ هيواد د علاج کولو او د روغتيا حات ته د نيژدې کولو لپاره جدي ګامونه اخيستي وای دا يو څرګند ضرورت وو. که هغه نرم اقدامات کړي وای نو ښايی خلک سم ورباندې پوهېدلی نه وای او په بشپړه توګه به يې له نظره غورځولي وای. هغه وحشي قبايلي خلک چې د لويو لارو ځينو برخو ته يې د مرګ د وادي نوم ورکړی وو يا د امير پوځيانو ووژل يا يې ونيول او اعدام يې کړل او يا يې له لويو لارو څخه ورک کړل.
له بلې خوا که د کابل يو اوسېدونکی وغواړي چې ځانته کاروبار پرانيزي امير ته يو درخواست ورکوي او امير د هغه د کاروبار لپاره پور ورکوي او د پور په بدل کی هيڅ سود نه ورڅخه اخلي.
ما په خپلو مخکنيو پاڼو کې ليکلي دي چې امير څرنګه نه يوازې د دربار خدمتګارانو او د خپل محافظ کنډک ځوانو عسکرو ته تعليم ورکاوه بلکه د اشرافو زامن يې، چې ده غوښتل په پوځ کې يې شامل کړي، هم روزنه ورکوله.
د کابل په کارخانو کې د امير تعليمي نفوذ زيات او محسوس دی. ډېر زيات افغانان په هغو کارخانو کې چې انګليسي انجنيران يې اداره کوي ، چې وخت په وخت د امير له خوا را بلل کيږي، او دغه راز د هندوستاني ميستريانو تر لاس لاندې کار کوي چې له لاهور او بنګال څخه ورته معرفي سوي دي.
په دې کارخانو کې نه يوازې د جنګ وسايل او مواد توليديږي بلکه د مختلفو لاسي صنايعو کار هم روان دی. يوه ډله خلک د څرمنو کار کوي او د انګليسيانو او روسانو پر طرز عسکري موزې کاپی کوي او جوړوی يې؛ ځيني نور بيا ځينونه، قيضې، کمربندونه او قطاروزنې جوړوي. ځيني کارګران مېزونه او چوکۍ او رنګارګ د کورسامانونه جوړوي. ځيني بيا د ژړو څخه شمع دانی، څراغونه او نور شيان جوړوي چې هم ګټور او هم تزييني دي. په دې کې تر ټولو هنري کار د سپينو زرو د زرګرانو دی. هغوی د امير او سلطانې لپاره ډېر ښکلي شيان


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

جوړوي. پيالي، چاى خورى، ډيري ښکلي چاينکي، خنجرونه او د تورو لاستي جوړوي. د دوى کارونه بيخي وطني رنګ لري. امير هغوى ته رسم ورښيي او يا په اينګليند کي جوړ سوي شيان ورته ښيي چي د هغو له مخي نور شيان جوړ کړي.

په کابل کي اروپايي شيانو رواج موندلى دى او له هغه وخته چي زه د امير خدمت ته راغلى يم تر اوسه پوري د اروپايي طرز لباسونو اغوستل ډېر زيات سوي دي. که څه هم چي د کابل خياطانو ډېر ژر اروپايي طرز لباسونه جوړول زده کړل مګر امير دې ته متوجه سو چي هغوى لا ښه رسېدلي نه دي او اروپايي طرز لباسونه سم نه سي جوړولاى نو يو انګليس خياط يې را وغوښت څو هغوى ته درس ورکړي او انګليسي لباس جوړول ور زده کړي. په کارخانو کي يې د خياطي د زده کړي لپاره صنفونه ورته جوړ کړل او لږ وخت وروسته معلومه سوه چي ځينو يې اروپايي لباسونه جوړول ډېر ښه زده کړل او په بازار کي يې ښې پيسې ورباندي جوړي کړې.

ما مخکي ليکلي دي امير زما څخه وغوښتل چي د نقاشي يو صنف جوړ کړم. ما هم صنف جوړ کړ او شاګردانو مي په لږه موده کي په نقاشي کي ډېر ښه پرمختګ وکړ.

که زه د ټولو مختلفو کارخانو په باره کي تفصيل ورکوم زه فکر کوم چي دا به ډېر ستړى کوونکى او حتى غير ممکن وى چي سړى ټولي کارخاني او د هغوى مختلف کارونه وشمېري. مګر زه فکر کوم چي د دغو کارخانو په باره کي مي کافي تفصيل ورکړى دى او سړى يې د موثريت په برخه کي ښه اټکل کولاى سي. په دغو کارخانو کي ۱۰۰۰ يا پنځه لس سوه کارګر په کار لګيا دي. کله چي دوى خپلو کورونو ته ځي نو د خپلو کورنيو غړو او نورو دوستانو او ملګرو ته د کارخانو او د عجايبو کارونو کيسي کوي. په حقيقت کي يو ډېره مشهوره سندره هغه يوه ده چي په دغو کارخانو کى د يوه کارکوونکي هلک د ژوند او کار په باره کي ويل سوې ده. دا سندره ګواکي د کارګر هلک مور ويلي ده مګر د هغه کارګر په نکل ختميږى چي په ماشين کي بند سوى او وژل سوى دى.

دا بايد په ياد ولرو چي د تمدن پر لور د روزني دغه سستم پر داسي خلکو او قوم باندي عملى کيږى چي تر دغه وخته پوري يوازي په جنګونو او غلاوو مشهور ول، نيم متمدن ول او د هند د نورو قومونو په څېر نه ول او داسي فکر نه کېدى چي دوى به هم يو وخت متمدن سي او په کارخانو کى به راز راز سامانونه جوړوي.

کله چي زه وايم چي يو څوک يا په کارخانو او يا په خپلو دوکانونو او کورونو کي داسي څه توليد او جوړ کړي چي خپل اصليت ولري او د افغانستان د خپل صنعت رنګ ولري نو امير هغوى ته انعام ورکوي؛ له دې څخه معلوميږي چي امير له پرمختګ سره د زړه له کومي مينه لري او غواړي چي خلک يې متمدن او په علم سمبال سي.

زما په څېر د يوه معمولي عقل د څښتن سړي لپاره به دا تر وخت مخکي او بېځايه کار وي چي د امير شخصيت تحليل کړي. د امير فکر او معلومات که څه هم چي ډېر ژور نه دي او علم او اطلاعات يې هم سطحي دي مګر په خپلو شاوخوا خلکو کي تر ټولو ښه ځليږي او د دربار د خلکو په منځ کي داسي ښکاري لکه په پيکه او تتو لمبو کي چي يو روښانه څراغ بليږي. د امير ظاهر اروپايي دى، د ډېر ښه او قوي زړه خاوند دى، د تمدن لباس يې په ځان او د افغانانو له جملې څخه يو افغان دى او د خپل نژاد او قام تر ټولو ښه نمونه ده مګر هغه بيا هم يو شرقي دى.

مګر موږ انګليسيان چي ده استخدام کړى يو د ده د قوي شخصيت تر تأثير دونه لاندى يو چي ورته حيران يو او کله چي له اروپاييانو سره د ده محترمانه او دوستانه سلوک ته ګورو نو دونه يې تر اغېز لاندي راسو چي په اصطلاح ورباندي مين سو او د ده له قوي شخصيت سره يو ډول پيوند احساسوو. مګر زموږ په منځ کي داسي ناظرين هم ول چي، د کلونو په تېرېدلو سره، داسي فکر ورته پيدا سو چي موږ د امير د سطرنج مهرې يو او کله چي هغه د لوبې د ختمولو فيصله وکړي موږ به ټول د سطرنج له تختې ليري کړي.

سره له هر څه، که څه هم چي په يوه شرقي دربار کي ژوند داسى دى چي هر يو کوښښ کوي هغه بل ته تاوان ورسوي او شر او فساد په سپينه ورځ چالان وي او هر څوک د خپل ځان غم خوري او د بل په قصه کي نه وي او دا د تعليم يافته انګليسيانو له مزاق او طبيعت سره نه برابريږي خو هغه داسى يو عجيب محيط دى چي کله سړى ورداخل سي بيا يې زړه نه غواړي چي ورڅخه ووزي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ